د افغانستان اسلامي امارت

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي رياست**

**د تحريراتو آمريت**

**د متحدالمآلونو څانګه**

نېټه: ۱۴۴۴/۹/۱۹ هق

☐ عاجل ☐ عادي ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر

د متحدالمآل ګڼه: ۴۷

---

**د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!**

**السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته**

وبعد : په تاريخ ۱۴۴۴/۹/۶هق چې د ۱۴۰۲ هجري لمريز کال د حمل مياشتې د اتمې (۸) نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د يادې غونډې لومړۍ موضوع داسې وه: ((هغه فيصلې چې په تعزير بالحبس يا تعزيربالضرب (دُره وهلو) سره صادرې شوې وي او په ابتدائيه يا استيناف مرحله کې قطعي شي، يادې فيصلې د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر (۳۸) مورخ ۱۴۴۴/۶/۴هق مطابق د تطبيق د امر ترلاسه کولو لپاره د سترې محکمې محترم مقام ته را استول کيږي چې ډېر په ځنډ رارسيږي په دې اړه چې څرنګه ترتيب وشي؟))

د سترې محکمې عالي شورا د تصويب نمبر (۳۵) مورخ ۱۴۴۴/۹/۶هق د لومړۍ پريکړې په اساس د يادې موضوع په اړه داسې هدايت وکړ: ((په هغه موضوعاتو کې چې په ابتدائيه يا استيناف کې يې تعزيري فيصله قطعي کيږي ځيني وخت فيصله د حبس وي يا د دُرو سوې وي يا د دواړه (حبس او دُرو) سوې وي دا چې د دغه تعزيراتي فيصلو را استول سترې محکمې ته کله کله وخت نيسي نو محاکم دې کوشش وکړي په هره ممکنه طريقه چې وي بې له ځنډه دې مستقيماً د سترې محکمې محترم مقام ته راواستوي او د ځنډ په صورت کې چې بندي تر خپل اندازه زيات په حبس کې پاتيږي يعنې د فيصلې حبس يې پوره سوی وي، مربوطه محکمه دې په تضمين د ايله کيدلو خبره د سترې محکمې د محترم مقام سره شريکه کړي او د دُرو د تطبيق څخه مخکې دې بندي په قوي تضمين خوشې کړي کله چې د دُرو د تطبيق په اړه د مقام هدايت يې ترلاسه کړ تر هغه وروسته دې د مقام د هدايت موافق اجراآت وکړي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

په درنښت

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د سترې محکمې

د دارالانشاء عمومي رئيس

ستره محکمه
رياست عمومی دارالانشاء

۱۹ ... ۱۴۴۴ هق

---


Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af